دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

منافقان ټگي کوي له الله سره، او الله سزا ورکوونکی دی دوی ته (ددوی د ټگی په سبب) هر کله چې پاځیږي دغه منافقان لمانځه ته نو پاځیږي سست کاهلان، ښئ دوی خلکو ته خپل ځانونه چې موږ هم مسلمانان یو، او نه یادوي دوی الله مگر لږ، د خان ښودلو په خاطر. دوی متردد دي په منځ د ایمان او کفر کې، (نه بیخي له مؤمنانو سره دي او نه بیخي له کفارو سره) او الله چې څوک گمراه کړي نو له سره به ونه مومې ته، هغه لپاره د حق لاره. (النساء، ۱۴۲ - ۱۴۳)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پر هغه ذات مې قسم چې دهغه په قبضه کې زما روح دی، تاسې به خامخا خلکو ته د نیکی حکم کوئ او له بدو کارونو څخه به منع کوئ، د کم عقلو لاسونه به نیسئ چې هغوی پر چا تیرې ونه کړي، او د حق په لوری به اړوئ که نه الله تعالی به ستاسی د ځینو خلکو له کبله ستاسی د نورو خلکو زړونه هم مړه کوي، بیا به پر تاسو داسې لعنت کوي لکه څنگه چې د بني اسرائیلو پر خلکو یې لعنت کړې و. (ابو داود، ترمذي)

شهادت دویم کال، ۲۵ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د چنگاښ ۱۲ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رجب المرجب ۲۵ مه د ۲۰۱۰ م د جولای ۷ مه

د حزب اسلامي رهبری شوری؛

د حزب د رئیس او اجرائیه شوری لپاره ټاکنې ترسره کړې

الحاج عبدالهادي ارغندیوال په غوڅ اکثریت د حزب اسلامي د رئیس په توگه انتخاب شو

PROPERTY OF ACKU

د حزب اسلامي د رهبری شوری غونډه د چنگاښ پر لسمه او یولسمه د حزب اسلامي په مرکزي دفتر کې جوړه شوه. رهبري شوری چې شمېر یې ۱۲۰ تنو ته رسیږي او د هېواد د ټولو قومونو او سیمو استازي پکې غړیتوب لري د حزب اسلامي د رئیس او اجرائیه شوری لپاره یې ټاکنې ترسره کړې.
غونډه د ننگرهار پوهنتون د علمي مرستیال پوهنوال دکتور دل آقا وقار لخوا د قرآن عظیم الشان د مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پرانستل شوه.
د غونډې چارې د حزب اسلامي د دعوت او تنظیم مشر مولوي جانباز سرفراز له لورې پرمخ تلې. په پیل کې مولوي سرفراز د حزب اسلامي د تېرو کلونو په سیاسي جریاناتو رڼا واچوله او وروسته د حزب اسلامي رئیس او د اقتصاد وزیر الحاج عبدالهادي ارغندیوال د غونډې برخوالو ته په تېرو کلونو کې د حزب اسلامي پر سیاسي حضور او په ځانگړې توگه په کابینه کې د حزب اسلامي په گډون رهبري شوری ته معلومات ورکړه چې بشپړ متن یې په همدې گڼه کې لوستې شئ.
د حزب اسلامي رئیس د خپلې وینا په وروستي برخه کې د حزب د اصولو سره سم چې د هر کال په پای کې به د نوي رئیس لپاره ټاکنې کیږي او زوړ رئیس به رهبری شوری ته خپله استعفا وړاندې کوي، استعفا ورکړه.
د ارغندیوال د هر اړخیزې وینا وروسته د رهبری شوری ترمنځ تاوده بحثونه وشول او روان سیاسي جریانات یې په ژوره توگه وڅېړل، د همدې ورځې په پایله کې د رهبري شوری غړو د رئیس د انتخاب لپاره رای واچولې چې د رایو په قاطع اکثریت ښاغلي ارغندیوال د دریم ځل لپاره د حزب اسلامي د رئیس په توگه انتخاب شو. د غونډې په دوهمه ورځ د حزب اسلامي نوی رئیس د اجرائیه شوری د غړو نومونه رهبری شوری ته وړاندې کړل چې دهغې جملې نه اتلسو غړو له رهبری شوری د اعتماد رای واخیستلی چې نومونه په لاندې ډول دي:
مولوي جانباز سرفراز، مدیر سید رحمن، واحدیار، عبدالقدیر کریاب، انجنیر محمد خان، داکتر فضل محمد ابراهیمي، داکتر محمد انور، انجنیر نصیر احمد، تورن غلام سخي، عبدالجبار شلگري، گل محمد گلزی، داکتر قاسم همت، قاضی نجي الله، سید عمر اعزامي، سید سلیمان حیدري، قاضی بسم الله، حاجی حفیظ الله، قاضی هاتف، حمیدالله دانشی او مولوی زبیر.
د غونډې په پای کې د حزب اسلامي افغانستان رئیس عبدالهادي ارغندیوال یو مطبوعاتي کنفرانس ورکړ او د ژورنالیستانو بېلا بېلو پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.
غونډه د جمعې په ورځ په ۱۱ بجو د مولوي صاحب زبیر په دعا پای ته ورسېده.

بیانیهٔ الحاج عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان
صفحه دوم

افغانستان د هغه ځا کور دی چې د اشغالگرو گر که لري
دریم مخ

ننگرهار د نا امنۍ پر لور

ټول افغان:
ننگرهار چې په هېواد کې دسولې د کاله په نامه یادېده په دې وروستیو کې د ځایي چارواکیو د نه پاملرنې له امله د ناامنۍ په ډگر بدل شوی. ان تر دې چې د ننگرهار زړه جلال کوټ هم د بدامنۍ په لمبو کې سوځیږي. وړاندې حالات دومره نه وو خراب او هر چا په ډاډه زړه خپله خواري مزدوري کوله، خو نن سبا امنیتي وضعه دومره خرابه ده، چې خلک په خپلو کورونو کې هم د خوندیتوب احساس نه شي کولای. داسې ورځ دې اور واخلي چې له ننگرهاره به د مرگ ژوبلې خبرونه نه خپرېږي.
ددې ټولو نا امنیو لامل د ننگرهار د چارواکیو بې غوري ده، چې د خپلو شخصي گټو لپاره یې ولس ته شا کړې او د امنیت ساتنې پر ځای د خپلو جیبونو د کولو په غم کې دي دوی په خپلو مزو چرچو اخته دي او له لاسه یې بې گناه ولسي خلک قرباني کیږي.
بله غټه ستونزه چې ولس ورسره لاس او گرېوان دی او تل پکې ورته مرگ ژوبله اوړي هغه د ځمکو پرسر شخړې او نانډرۍ دي چې تر ننه یې سلگونه ولسي وگړي د غم پر تغر کېنولي. په دې پېښو کې هم یو شمېر چارواکي لاس لري چې د یوې ټوټې ځمکې او ځو نمرو لپاره دوه قومونه سره جنگوي، هېڅوک داسې ثبوت نه شي ور کولای، چې د ننگرهار په غصب شوې ځمکه او ډاکوټو کې دې چارواکي او زورواکي برخه ونه لري. د ځمکې په هره مسئله کې د زر او زور خاوندان لاس لري او کله چې خبره سپیناوي ته وځي، نو خلکو ته معلومیږي چې
پاتې ٤ مخ

افغان مشران دې په لوبه کې داخل شي (جوبایډن)

د امریکا د ولسمشر مرستیال جو بایډن

آزادی رادیو:
د امریکا د ولسمشر مرستیال جو بایډن دعراق د لیدنې په مهال پرون په داسې حال کې چې په افغانستان کې یې د امریکا د پوځي ستراتیژۍ سخته دفاع وکړ، افغان مشران یې وهڅول چې د ده په وینا لوبه کې دې داخل شي. بل خوا جمهوری پلوی سناتور جان مککین د کابل د لیدنې په مهال په دې انتقاد کړی چې په دغې ستراتیژۍ کې ولې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره نېټه ټاکل شوی ده.
په داسې حال کې چې د افغانستان د جنگ نهه کاله تیریږي او د ولسمشر اوباما له فرمان سره سم لسگونه زره نوی سرتېري افغانستان ته روان شوي دي، دغه جگړه اوس یوې حساسې مرحلې ته داخل شوې ده.
د امریکا د ولسمشر په دې پریکړه چې په افغانستان کې یې د ځواکونو د شمېرد زیاتوالي تر څنگ دا فیصله هم کړی ده چې د راتلونکي کال په جولای کې به امریکایي عسکر له افغانستان څخه وتل پیلوي انتقادونه شوي دي. انتقاد کوونکي وایي، وسله وال مخالفین کېدای شي د ځواکونو د زیاتوالي په مقابل کې جنگ وځنډوي او څنگه چې دغه قواوې وتل پیل کړي دوی دې بیا میدان ته را ودانگي.
خو د امریکا د ولسمشر مرستیال وویل، چې ولسمشر باراک اوباما روغه ستراتیژي غوره کړې، دغه ستراتیژي مسؤلیتونه افغان ولسمشرحامد کرزي ته ور په غاړه کوي چې د اداري فساد.....
پاتې ٤ مخ

په ننگرهار کې دهندوانو دحاصل کته ترکوکنارو لوړه ده

ننگرهار، رسنی:
دننگرهار یو شمېر کروندگروایی چې په دې ولایت کې سږ کال دهندوانو دحاصل عاید او گټه دکوکنارودوه برابره زیاته او کروندگروترې ډیرې پیسې لاس ته راوړې. دبتې کوټ ولسوالیواوسیدونکي وایې چې په دې ولایت کې اوس زیاتره کروندگر په خپلو ځمکوهندوانې او خټکې کري او بیا یې دجلال آباد په سیمه ییزبازار کې پلوري. دغه کروندگرزیاتوي چې دوی له خپلو پټیوهندوانې په ډاډسن موټرو کې راوړي اوبیا په بولۍ کې یوه ډاډسن هندوانې له پنځو زرو څخه تر شپږ زرو افغانیو په هټۍ لرونکو اوسوداگرو پلوري.
د دې ولسوالی یو تن کروندگر محصل خان ته وویل: (دتیرو کلونوپه پرتله سږکال په ننگرهارکې دهندوانودحاصل کچه ډیره لوړه ده اوله یوجریب څخه کروندگرو کولای شي دوه سوه زره افغانیوعاید ترلاسه کړي.) نوموړی وایي چې مخکې کروندگر د کوکنارو له یو جریب ځمکې څخه نږدې سل زره افغانی لاس ته راوړي. دغه کروندگر
پاتې ٤ مخ

هشدار وزیر دفاع آلمان در مورد خروج سربازان خارجي از افغانستان

صدای آلمان:
وزیر دفاع آلمان می گوید سربازان ارتش کشورش در افغانستان، باید آماده مواجهه با یک تابستان سخت در مبارزه علیه تروریسم در افغانستان باشند، زیرا در تابستان امسال، احتمالا تلفات سربازان بیشتر خواهد شد. کارل تیودور سو گوتنبرگ، وزیر دفاع آلمان در گفتگویي با روزنامه "فرانکفوتر الگمانیر سایتنوگ " گفت: "بلي، گرچه بیان این مساله تلخ است، ما باید کشته ها و زخمي هاي بیشتري را حساب کنیم." افغانستان در آستانه برگزاري انتخابات پارلماني قرار دارد و ممکن است که خشونت‌ها افزایش یابد. وزیر دفاع آلمان
بقیه در صفحه ۴

حامد کرزی تلاش دارد تابعضی از سرکش ترین طالبان رامجبور به مذاکره کند

امریکا، رسانه ها:
"حامد کرزی ریس جمهور افغانستان تلاش دارد تا از دوستان قدیم و متحدین جدید استفاده کرده بعضی از سرکش ترین طالبان را مجبور به مذاکره نماید."
این مطلب را آژانس خبری اسوشتیت پرس گزارش داده است. آژانس به نقل از تحلیلگران پاکستانی و اعضای پارلمان افغانستان می گوید، حکومت پاکستان تلاش دارد تا میان حکومت افغانستان و شبکه حقانی به رهبری جلال الدین حقانی که یکی از خطرناک ترین و خشونت گر ترین گروه شورشیان افغان است، میانجی گری و معامله کند.
حقانی و پسرش در مناطق قبایلی وزیرستان شمالی متصل سرحد با افغانستان پایگاه ها دارند و به بعضی از خونین ترین حملات در کابل و در شرق افغانستان متهم می باشند.
به نوشته آژانس، حقانی با شبکه القاعده روابط عمیق دارد و دوستی جلال الدین حقانی با اسامه بن لادن به سال های ۱۹۸۰ میلادی "جنگ علیه شوروی سابق" بر می گردد.
حقانی کسی است که به اسامه بن لادن اجازه داد در ولایت خوست پای گاه ها را ایجاد کند.
خالد پشتون یک عضو ولسی جرگه افغانستان
بقیه در صفحه ۴

سرمقاله
د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

آیا د جنرالانو په بدلولو سره به وضعیت ښه شي؟!

د مک کرسټل له مستعفي کیدو وروسته جنرال پیټریوس په افغانستان کې د امریکا او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان په توګه وګمارل شو، نوموړي د هفتې په ورځ د امریکا د استقلال ۲۳۴ مې کلیزې په یوه غونډه کې چې په کابل کې د امریکا په سفارتخانه کې جوړه شوې وه پخپل یوه وینا کې وویل چې په افغانستان کې سختې ورځې مخې ته لري، خو تمه یې ښکاره کړه چې د مخالفینو په خلاف بریالیتوب یقیني دی.

د تېرو نهو کلو راهیسې چې په افغانستان کې د جګړې سنګرونه تاوده دي د جنګ دواړه لوري همدا اټکل کوي چې آخري بری به دهغوی وي. امریکا او ناټو غړیو هېوادو پوځیان په همدې هیله خپله جګړه پرمخ بیایي چې د خپل مخالف لوري په پرځولو کې به خامخا بریالی کیږي، او مخالف ځواکونو هم په همدې جذبه او امید د جنګ سنګرونه تاوده ساتلي دي چې آخري فتح به ددوی قدمونه ښکلوي، ددوی له دا ډول څرګندونو نه داسې معلومیږي چې دواړه لوري د حتمي بري په امید خپل جنګ ته ادامه ورکوي، مخالف ځواکونه د اتحادي پوځونو د راپرځولو مصمم عزم لري او اتحادي پوځونه د مخالفو ځواکونو د ګونډو کولو جدي تصمیم لري، خو تېره نهه کلنه تجربه دا را په ګوته کوي چې امریکا او ناټو ځواکونه په نهه کلن پوځي ماموریت کې داسې کوم پرمختګ نه دی کړې چې راتلونکی له پاره دهغوی د بري په اړه خوشبیني پیدا شي خو ددې برعکس د مخالفو ځواکو جنګي ساحه د افغانستان زیاترو ولایتونو ته غځیدلې او هره ورځ په امریکایي او ناټو ځواکونو انتحاري او د سړک د غاړې بمي چاودنې کوي، خو امریکا او ناټو غړي هېوادو مشرانو د خپلې ناکامۍ سره سره ددې خبرې عزم ښکاره کوي چې خپلو مخالفینو ته به خامخا ماته ورکوي او هغوی ته به دا فرصت نه برابروي چې د افغانستان واک پخپل لاس کې ونیسي، دا چې په دې جګړه کې به څوک برلاسی کیږي او څوک به ماته خوري له وخت نه وړاندې خبره ده، هېڅوک په یقیني ډول څه نشي ویلی، البته هغه خبره چې په یقیني ډول ویل کیدی شي هغه داده چې د افغانستان جنګ ځپلې ولس نور پخپل هېواد کې د ترهګرو په خلاف د جنګ تر عنوان لاندې د جګړو زغم له لاسه ورکړي، نه غواړي چې دهغوی په خاوره کې د بم او باروتو انسان وژونکې جګړه روانه وي او بې ګناه اولسي وګړي پکې خپل سر او مال له لاسه ورکړي.

اصلاً په افغانستان کې د ترهګرۍ تر عنوان لاندې جګړې پخپل ذات کې د ترهګرۍ ښه خپله کړې څکه چې ددې جګړې خوراک بې ګناه ولسي وګړي دي. د جنګ له پیله تر دې دمه اصلي نقصان بې ګناه ملکي وګړو ته رسیدلې دی، د اولس ژوند هره شیبه له ویرې او ګواښ سره مخامخ دی، داسې هېڅوک نه تر سترګو کیږي چې په آرامه زړه پخپل کور کې ویده شي او یا هم په بازارونو او لارو کې له څه ویرې پرته خلاصه تنې وګرځي. کله چې جګړه خپل اصل هدف له لاسه ورکړي او د ولسي وګړو ژوند په غم او اندېښنه بدله شي نو بیا دداسې جګړې د جاري ساتلو هېڅ جواز نشته، نو څکه پکار دي چې نور پر جګړه اصرار ونشي، د بري غلط خوبونه پرېښودل شي، بې دریغه مال او شتمنی د جګړې لوګې نشي، بلکې ددې پر ځای د روغې جوړې داسې پروسه په کار واچولې شي چې ګټه یې د افغانستان جنګ ځپلي ولس ته ورسیږي، له تباهي او بربادي نه خلاصون ومومي او په یوه آرامه فضاء کې د ژوند تیرولو فرصت ترلاسه کړي.

بیانیهٔ الحاج عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان در جلسه شورای رهبری

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله وکفی والسلام علی عباد الذین اصطفی

ان الذین قالو ربنا الله ثم استقاموا تتنزل علیهم الملائکة الا تخافوا ولا تحزنوا

علمای کرام، برادران عزیز القدر صبور مومن و گرانمایه شورای رهبری حزب اسلامی افغانستان :

السلام علیکم و رحمته الله و برکاته !

در موقعیکه بار دیگر به فضل و مرحمت پروردگار جلسه شورای رهبری حزب اسلامی را در این جا و در دفتر مرکزی حزب اسلامی دایر میکنیم دو نوع احساس متضاد در من ایجاد گردیده احساس شادی و غم، احساس شادی که پروردگار را شاکرم تا بار دیگر در زندگی ام شاهد برگزاری جلسه از افراد مؤمن و خدا پرستی که همه عمر بجز رضای پرودگار و حاکمیت دین اش در روی زمین به هیچ چیزی دیگر اولویت قایل نیستند و در این راه زمانیکه گفتند که پروردگار ما الله است، پس استقامت و پایداری نمودند و در برابر همه ناملایمات زندگی چون کوه استوار باقی مانده و صبور و بردبار راه پرنشیب و فراز مبارزه اسلامی شان را به صداقت و پایمردی پیموده اند و می پیماند که روحیه ام را بلند تزلزل ام را استواری اراده ام را استقامت و حیاتم را سهل و آسان میگرداند و احساس غم همزمان که در این بار دوستاره تابنده آسمان جهاد، اعضای شورای رهبری ما افول کرده و درخشنده ای این دنیا شان را از دست داده اند.

آری یکی معلم صاحب شهید عبدالرحمن که استوره از پایداری و صبر دعوتگر خستگی ناپذیر برادر مهربان و دارای خصلت بخصوص که نذیر اش را کمتر میتوان یافت به و اسطه دشمنان اسلام و افراد جاهل و بی خرد به شهادت رسیده و جایگاه اش برای همیشه در میان عزیزان و مشعل داران حزب اسلامی افغانستان خالی باقی خواهد ماند —او مرد با صلابتی بود که هرگز مشکلات روزگار فعلی و رنج جهاد و مبارزه پیگر نتوانست قامت برافراشته اش را خم کند و خوارش گرداند بلکه برعکس چون کوه استوار در برابر ناملایمات بسیار چین بر ابرو نیاورد نه مقام طلبید و نه جا و نه هم درگرو پول و ثروت قرار گرفت. روح اش شاد وجایگاه اش بهشت برین باد و خاطرات و یادش همیشه گرامی و پند و اندرزهایش مشعل راه، راهروان راه حق باد.

و دومی شهید مظلوم مجاهد نستوه برادر گرانقدر ما سناتور شیرین آغا که در شب تاریک همراه بافرزند جوانش در نتیجه توطیه پلان شده دشمنان سوگند خورده اسلام و مسلمین در پلخمری به واسطه به اصطلاح پولیس که ظاهراً حافظ جان و مال مردم است به شهادت رسیده و مال اش هم به تاراج رفت. حزب اسلامی افغانستان هرگز این شهدای عزیز اش را فراموش نخواهد کرد و به این هم معتقد اند که راه ما پر خطر و مسیر پر از نشیب و فراز است. اینها همانطوریکه اولین شهدای ما نبوده اند و آخرین هم نخواهد بود، پیام ما به دشمنان اسلام اینست که انشا الله انتقام این شهدای را خواهیم گرفت و با این جنایات هرگز نخواهد توانست در اراده و ایمان ما غرض حاکمیت دین اسلام و ایجاد جامعه اسلامی خللی وارد کند زیرا راه را آگاهانه برگزیداه ایم، خطرات را پزیرفته و رنج را برخود هموار نموده ایم و انشا الله تعهد ما را ابدی خواهیم نمود.

بیاید جمعاً به روح پر فتوه این شهدای عزیز و سایر شهدای راه اسلام دعا نموده جایگاه شان را جنت فردوس طلب نمایم.

برادران عزیز من از بابت تاخیردایر کردن این مجلس که بدون شک همراه با مصلحت ها بوده شخصاً عذر میخواهم اما در مقاطع مختلف که اراده به برگزاری جلسهٔ شورای رهبری مینمودیم با چالش و مشکلات برمیخوردم که در مشوره با شورای اجرائیهٔ حزب مجبور به تعویق انداختن آن میشدیم امید است پوزش ام را بپذیرید . مشکلات که در فراه راه ما قرار داشت عوامل مالی، داخلی، خارجی و سیاسی داشته که تشریح هرکدام زمان طولانی را ایجاب مینماید که اختصاراً در سطور چند خدمت شما عزیزان بیان میدارم. نمایش بزرگ شما در کابل و با حضور ۱۵۰۰ نفر از نخبگان جهاد افغانستان در مدارج بالای اخلاقی، نظم و بردباری خنجری بود بر قلب دشمنان، لذا در صدد شدند که سنگ اندازی تا جلو این موج خروشان صداقت، قدرت و استقامت و پایداری را بگیرند و تحمل این نمایش و همایش بزرگ را نداشتند ولی از آنجاییکه این اجتماع تبلور از پختگی، احساس پاک و عزم آهنین بود ، هیچکس نتوانست مانع آن گردد بلکه روز تا روز به قدرت و عزمت حزب افزوده شده و دست آوردهای فراوانی را همراه داشت ولی در عین زمان باید اذهان داشت که طی کردن این طریق منتخب حزب کار سهل و آسان نبوده بلکه تلاش پیگیر و متداوم میخواهد که الحمدلله در بخش های زیادی داخلی و خارجی آن توطیه ها خنثی گردیده است و راه پیشرفت را برای حزب همراه گردانیده ایم.

* مسلهٔ وسعت فعالیت های حزب به سطح کشور یکی از دیرینه آرزوی من و همه شما بوده که الحمدلله حالا در قلب هر حزبی جوانه های امید سر زده و نسبت به کار شان مطمئن و معتقد گردیده اند.

* موضوع بزرگ دیگر در طول مدت گذشته انتخابات ریاست جمهوری بود که در پیش داشتیم که در برابر سوال کاندید مستقل حزب اسلامی و توام به آن خطرات احتمالی اش و حمایت از کاندید دیگر قرار داشتیم که بدون شک هر دو صورت آن دارای مزایا و نواقص بود که بعد از مشوره با شورای مشورتی ۶۰۰ نفری حزب اسلامی از همه افغانستان تصمیم در حمایت از کاندیداتوری کرزی گرفتیم.

* اشتراک همزمان اعضای حزب در انتخابات شورا های ولایتی با استفاده از موقعیت دست داشته بصورت گسترده در همه کشور حتی در پنجشیر و سایر نقاط دست آورد های خوبی با خود داشته که در مجموع افغانستان حدود ۷۰ نفر از اعضای شورا های ولایتی را برادران و خواهران ما تشکیل میدهد و نتیجه انهم حضور مشهود بیست دو نفر برادران و خواهران ما منحیث سناتوران منتخب حزب اسلامی در مجلس سنا میباشد.

* گرچه بعد ازپیروزی به تعهدات که با ما از جانب ریاست جمهوری در سهم دادن حزب درنظام صورت گرفته بود عمل نشد و صرف به دادن یک پست وزارت انهم نه چندان مهم بسنده گردند ولی جایگاه حزب اسلامی در نظام افغانستان مشخص گردیده جلو زیادی از توطیه ها علیه حزب اسلامی گرفته شده است.

* گرفتن رای اعتماد از پارلمان در همان موقعیت حساس همراه با کار موانع کار آسان و سهل نبود که اجازه بدهد که از نقش فوق العادهٔ ارزنده اعضای ما درپارلمان جهت بسیج نمودن اعضای پارلمان و رای دهی آنها در جهت خواسته شده حزب پرافتخار اسلامی افغانستان تمجید نموده که ایجاب مینماید من به نماینده گی از همه برادران عزیز و خواهران خود در پارلمان تشکر واظهار سپاس نمایم.

* تلاش ها در رابطه با ایجاد مراکز فرهنگی اسلامی ومکاتب حتی پوهنتون برای طبقه اناث و ذکور دوام داشته امید این سلسله بعداز عهده داری مسؤولیت من همچنان ادامه یابد.

* جای بس افسوس میدانم در حالیکه خواهران ما در ولسی جرگه شورا های ولایتی و سنا افغانستان حضور دارند ولی ما تا هنوز قادر نشده ایم تا تشکیلات خواهران ما را بشکل منظم تنظیم نمایم که بار دیگر از خواهران عزیز معذرت میخواهم امید در آینده دست آورد های هم در این زمینه به همت خود خواهران داشته باشیم.

در اخیر با اعتراف بر قصور و کمی های فراوانی که داشته ام از همه برادرانیکه مرا در شورای اجرائیه همیشه یاری رسانیده و موکب پرشکوه حزب را به این مرحله رسانیده اند تشکر میکنم.

از برادارن فرهنگی در هفته وار نمودن جریدهٔ شهادت و تنظیم جوانان و شوراهای ولایتی که با وجود همه مشکلات کار را ادامه داده اند ولو با موانع زیادی بوده است سپاسگذارم. و حال موقع آن رسیده است که بر مبنای اصول حزب اسلامی افغانستان از پوست ریاست حزب که این امانت بزرگ را شما عزیزان دوسال قبل به من سپرده بودید استعفا ام را اعلان بدارم و رجامندم تا با دقت این امانت بزرگ را به کسی دیگری که شما سزاوار بدانید وشایستگی اش را داشته باشد بسپارید.

و من الله التوفیق

افغانستان د هغه چا کور دی چې له اشغالګرو کرکه لري

ژباړن : نثار احمد صمد

(دا هغه وینا ده چې د امریکا د جمهوریت غوښونکي ګوند پارلماني استاځي "ران پاول" د جولای پر دریمه د واشنګټن په کانګریس کې واوروله . ډاکټر ران پاول ډیر مشهور سیاست وال او د بارک اوباما په مقابل کې د ولسمشرۍ لپاره کاندید هم و . ران پاول د خپل ګوند او دیموکراتانو دواړو پر پالیسیو انتقادونه کوی . نوموړئ په کانګریس کې د ټکزاس نماینده دی او دغه وینا یې په کانګریس کې واوروله چې متن یې په لاندې ډول دی)

موږ د ۱۹۹۱ په جنوري کې په منځني ختیځ کې د عراقی دیکتاتور صدام حسین پر ضد چې د عراق ـ ایران د جګړې پر مهال زموږ ملګری و ، جګړې ته ورغلو . د کویټ او عراق تر منځ سرحدی کړکیچ هغه مهال پیښ شو چې زموږ خارجه وزارت د صدام نوموړي یرغل ته شین څراغ ولګاوه .

پر کویټ باندې د عراق د بریمن یرغل څخه وروسته موږ په ډیره مینه او جذبه سره غبرګون وښود او په دغه پراخه سیمه کې ، چې زموږ څخه شپږ زره میله لیرې واقع ده ، د پوځي پلوه داخل شوو چې په هغه کې عراق ، افغانستان ، پاکستان ، یمن او سومالیا هم شامل دي . له هغه وخته چې اوس شل کاله تیر شوي ، وژني مو کړي ، او څو تریلیونه ډالره مو هم ضایع کړي ، نه یوازې دا چې هماغه جګړه په داسې بڼه روانه ده چې پای یې نه تر سترګو کیږی ، بلکې زموږ مشران بیا هم دا اخطار ورکوي چې پر ایران به هم بمونه ولوروو.

ډیرو امریکایانو په نظر موږ په جګړه کې یو ، یعنې هغسې جګړه چې د یو تاکتیک پر ضد روانه ده چې تروریزم نومیږی ، نه د کوم هېواد پر ضد . دا کار زموږ پوځ ته اجازه ورکوی چې زره یې وی د نړۍ هرې برخې ته هر کله آزادانه ورسی . خو پوښتنه دا ده چې موږ په کومو شرایطو جنګ ته دانګلی شو ؟ وګورئ کانګریس لکه زموږ اساسی قانون چې یې ایجابوی ، جنګ نه دی اعلان کړی ، او دا یو حقیقت دی . خو زموږ ولسمشرانو او کانګریس او خلکو هیچا هم پر دغه کار اعتراض نه دی کړی . دا لا څه ، کانګریس په اطاعت سره ټولې هغه پیسې هم منظوروی چې د دې جنګ لپاره غوښتل کیږی.

انسانان وژل کیږی ، بمونه اچول کیږی ، زموږ پوځیان وژل کیږی او وژني کوي . زموږ پوځیان یونیفورم اغوندي، خو زموږ دښمنان یې نه اغوندي . هغوی د کوم حکومت مربوط نه دي . هغوی الوتکي نه لری ، ټانکونه نلری ، کښتی نه لری ، توغندۍ نه لری ، او هیڅ عصری تکنالوژي نه لری . نو که دا په رښتیا هم جنګ وی ، کوم ډول جنګ دی ؟ فلهذا، که دا یو رښتیانی جنګ وای ، وختی به مو لا ګټلی وای . د سپټمبر د یوولسمی راهیسی زموږ رسمي او ویل شوی هدف د القاعده تباه کول و.

آیا القاعده په عراق کی شتون درلود ؟ ځواب دا چی د صدام حسین پر مهال قطعاً نه . زموږ مشرانو پر عراق باندی د حملې لپاره موږ ته دروغ ویل او د افغانستان د نیولو لپاره یې موږ خطاایستلو . همدا نن هم اصلاً په عراق کی القاعده وجود نه لری او فقط سل کسان یې په افغانستان کی پاته دي ، خو د دې هر څه سره سره بیا هم د دې جنګ پای نه معلومیږی . نو آیا نور داسی دلایل به هم وي چی وښیی دا جنګ اصلاً جنګ نه دی ؟

په افغانستان کی پوځی سوبه یو غلط ادراک دی . آیا څوک واقعاً هم په دې خبر دي چی موږ هلته د چا سره جنګیږو او ولې ؟ ولې دا جنګ پای ته نه رسیږی ؟ پوره نهه کاله تیر شول ، خو هغه نور هم پسی پراخیږي . ځینی کسان ادعا کوي چی دا جنګ امریکا ساتي، ګواکی زموږ پوځیان زموږ د آزادۍ لپاره هلته جنګیږي او وژل کوي ، ګواکی زموږ اساسی قانون ساتی . آیا موږ ته نن د دې جنګ د پراخولو په حصه کی یو ځل بیا هغسی دروغ نه ویل کیږی لکه په ۱۹۶۰ لسیزه کی چی د ویتنام د جنګ د پراخولو پر مهال راته ویل کېدل ؟

همدا نن د عراق حکومت زموږ دی کټ مټ لکه افغانستان چی زموږ دی . په افغانستان کی موږ د طالبانو یعنی هغو کسانو سره جنګیږو چی خطرناک دي او په خپلو وسلو سره د خپل هېواد د دفاع لپاره راسره جنګیږی . هغوی یو وخت مجاهدین بلل کېدل چی د بن لادن په شمول زموږ پخواني ملګري وو تر څو په ۱۹۸۰ لسیزه کی یې شورویان په جنګ سره د افغانستان څخه شړلي وای . په هغه شخړه کی زموږ "سي آی اې" د هماغو ناولو بهرنیو اشغالګرو یعنی روسانو پر ضد بنسټ پال جهادیان تمویل کول . هو، څومره د مننی او خوښی وړ ده . باالکل هماغه خلک همدا نن زموږ د خیرخواهانه اشغال څخه کرکه ښیئ او په مقابل کی راته ولاړ دي.

هلته مقاومت زموږ د شتون په وړاندې ډیریږی خو زموږ ټینګار او اصرار هم ورسره زیاتیږی . نور نو زموږ خلک راوبښیږی ، لاکن چارواکی مو د دې څخه انکار کوي چې : که هرڅونه وخت موږ هلته پاتیږو ، نو د هغو کسانو پله به درنه کیږی چی خانونه یې دې ته وقف کړي چی افغانستان د هغو افغانانو دی چی د ټولو بهرنیو اشغالګرانو څخه نفرت لري.

نو هر څومره ډیر چې موږ په هغه جنګ کی جنګیږو چې اصلاً جنګ نه دی ، په هماغه اندازه به کمزوره کیږو لاکن دښمن به مو پیاوړئ کیږی . کله چی یو بی وسلې دښمن د یو ستر پوځ یعنی په تاریخ کی تر ټولو د غښتلي اردو عزت کوي، نو باید وپوښتل شي چې د دغو څخه کوم یو یې لوړ اخلاقی معیار لري ؟

هو ، دا واضح ده چی په افغانستان کی پوځی ماتې زموږ په برخه ده . د تګلارې یا تګلارې جوړونکو د بدلون څخه پرته یوازی د جنرالانو بدلون زموږ مصیبت نور هم همیشنی کوي او صرف هغه څه څنلهوی چی هرومرو پیښېدونکی دئ.

دا هغسی جګړه نه ده چی زموږ جنرالان ورته روزل شوي وو . دولت جوړونه ، د پولیسو کارونه ، ټولنیزی جوړونی هیڅکله هم د بهرنیو نیونکو دندی نه دي او نه هم دا د هغو پوځیانو کار دی چی د جګړې د ګټلو لپاره روزل شوي وي.

پوځی سوبه نور نو زموږ د پوځی مشرانو یا سیاست والو له خولې لوېدلې ده ، ځکه هغوی پوهیږي چی هلته دغسی بریئ ناشونی دی.

لویه غمیزه لا دا چی دا جګړه زموږ خپل پر ضد ده ، زموږ د ارزښتونو پر ضد ده ، زموږ د اساسی قانون پر ضد ده ، زموږ د مالی جوړښت پر ضد ده او باالاخره زموږ د سلیم عقل پر ضد ده . او په کومه طریقه یا اندازه چی اوس موږ پکښې دخیل یو ، انجام به یې ډیر بد او ناوړه وي.

نو یوازینی هغه څه چې موږ ورته اړ یو ، صادق او پاک مشران دي چی ښه ځانګرتیا او یوه نوې بهرنی تګلاره ولري او بس .

محمد خلیل

د سولې مخالفین د ملت دښمنان دي

له دې منل شوې حقیقت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولي چې د جنګ او جګړې سرې لمبې هله مړې کیږي چې په جګړه کې ښکیل لوري د روغې جوړې لاره ونیسي او د سولې د تأمین لپاره خبرو ته کیني.

د افغانستان مسلمان ولس چې د اوږدې مودې راهیسې د جګړو په سرو لمبو کې سوځي او د آرام له ژوند نه محروم دي، سولې او آرام ژوند ته لیوالتیا لري څرګنده خبره ده چې دهغوی دغه لیوالتیا هله تحقق موندلې شي چې یو بل ته د اخلاص او ضمیمیت لاسونه ورکړي، پخپلو زړونو کې پټ او ښکاره ټوله خیره ختمه، او پر ځای د ورورۍ او همدردۍ جذبه ځای پر ځای کړي، خپل تیر هیر، او راتلونکي له پاره د ورورۍ او مینې په خوږه فضاء کې د خپل دین، خاورې، استقلال او ولس د خدمت په خاطر یو موټی شي.

اولسمشر حامد کرزي چې د اولس ددغه ارمان د تحقق په موخه د دولت له مخالفینو سره د اولس په غوښتنه خبرې اترې پیل کړي او دا هیله پیدا شوې چې د روغې جوړې دا پروسه به د برې درشل ته رسیږي د هېواد د ځینو عناصرو په کولمبو کې درد پیدا شوی او خپلې هلې ځلې په دې متمرکزی کړي چې د سولې د خبرو اترو مخه ډب او له ځوریدلي ولس سره د جفا او خیانت بل ناولې ثبوت وړاندې کړي. پکار خو دا و چې دغو عناصرو د هېواد او ولس د ګټو په خاطر د روغې جوړې پروسې ملاتړ کړې وای او په دې نیک کار کې خپله پوره ونډه اخستې وای، مګر متأسفانه د خپل زوړ عادت له مخې یو ځل بیا د خاورې او ولس د ګټو پر خلاف میدان ته رادنګلي او هغه څه وایي چې د ملت د غوښتنو پر ځای د دښمنو هېوادونو د ارادو ترجماني کوي هغوی دا ګواښ هم کوي چې که چېرته دولت له مخالفینو سره روغه جوړه وکړي او هغوی ته په حکومت کې برخه ورکړي نو موږ به یو ځل بیا وسله واله مبارزه پیل کړو. دا هغه خبرې دي چې له سولې سره د دښمنۍ له ښکاره اعلان پرته بل هېڅ مفهوم او مقصد ترینه نه ویستل کیږي. د افغانستان مسلمان اولس له دغو عناصرو څخه پوښتنه کوي چې که تاسو له مخالفینو سره د روغې جوړې له لارې د امن راوستلو مخالف یئ نو له سولې پرته له تاسو سره بله کومه معقوله لاره ده چې دغه ځوریدلي او رنځیدلي ولس د جنګ او جګړې له اور نه په امن شي؟

د اوږدې مودې راهیسې د جنګ او جګړې ترخه تجربه خو دا ثابته کړه چې د جنګ دوام افغانانو ته له تباهی او بربادی پرته بل هېڅ ګټه نه شي ورکولی. همدا جنګ دی چې تر اوسه د لکونو په شمېر کې افغانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ او زرګونو په شمیر کې معیوب او معلول شول، خپل مادي او معنوي ارزښت یې بایلود او د ګدایی کچکول ګرځولو ته اړ شول. داسې یو جنګ ته ادامه ورکول چې تر ننه له تاوان پرته بل هېڅ ګټه یې نه ده تر سترګو شوې له حماقت او لیونتوب نه علاوه بل څه کیدای شي؟

دغه جنابان خو دې د یو معقول دلیل له مخې داسې یو ثبوت وړاندې کړي چې خپلمنځي جګړو په اوږدو کې هېواد او ملت ته تاوانونه نه وي اوړیدلي، او یا هم د جګړو له لارې، هېواد او هېوادوالو ته کومه ګټه رسیدلې وي. ښکاره خبره ده چې هېڅوک داسې کوم معقول ثبوت نه شي وړاندې کولی چې د خپل منځي جګړو په ترڅ کې یوه وړه غوندې ګټه هېواد او ملت ته رسیدلې وي.

داسې یوه جګړه چې تر ننه هېڅ ګټه ترینه نده مرتبه شوې او ملت ترینه د نجات چیغې وهي دهغه د جاري ساتلو ګواښ کول په حقیقت کې د ملت په مړی چاړه راښکل نه دي؟ !

هغه عناصر چې له مخالفینو سره د روغې جوړې د پروسې مخالفت کوي او دهغوی د زغملو توان په ځان کې نه ویني، لږ غوندې خو دې ددې خبرې وضاحت هم وکړي چې تر اوسه د جنګ له لارې څومره بریالیتوبونه ترلاسه شوي او کومه مثبته نتیجه یې ورکړې ده؟ آیا له دې حقیقت نه سترګې پټیدلی شي چې د یو بل د حذفولو لپاره کومه جګړه د تیرو نهو کلو راهیسې پیل شوې ده هېوادوالو ته له تباهي، بربادی او هلاکت پرته بل څه نه دي ورکړي؟

د نړۍ د ۴۷ هېوادو پوځیان چې د تېرو ۹ کلو راهیسې په افغانستان کې د دولت له مخالفینو سره په جګړه بوخت دي دا خبره مني چې په افغانستان کې له روغې جوړې پرته امن نه شي راتلی، ځکه خو هغوی د دولت د روغې جوړې د پروسې بشپړ ملاتړ اعلان کړی دی.

که چېرته د امریکا په مشرۍ د ناټو غړي هېوادونه په افغانستان کې روغه جوړه د امن یواځینۍ لاره بولي نو د ځینو ټوکمو مشران په کوم قوت او ځواک د وسلو اوچتولو ګواښونه کوي؟ آیا له دوی سره داسې کومه سلیمانۍ خولۍ شته چې له سولې پرته جګړه ختمه او افغانستان کې امن راولي؟ که ورسره شته نو تراوسه ولې غلی ناست دي؟ دغه عناصر باید نور له سرزورۍ او زور ګویی نه لاس په سر شي او دا حقیقت ومني چې په افغانستان کې له سولې او روغې جوړې پرته نه امن راتلی شي او نه هم سوکالي.

د جنګ تجربه په افغانستان کې ناکامه شوې ده، هر چا چې د جنګ له لارې اقتدار ته د رسیدو هلې ځلې کړي هغوی خپل ولس نه له ناکامي او بدبختی پرته بل څه نه دي ورکړي نو ځکه نه ښایي چې د جنګ دغه ناکامه تجربه بیا لپاره تکراره، او خپل ولس له بدبختی سره مخامخ کړي.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

پتریوس: جنگ در افغانستان سرنوشت ساز شده است

جنرال دیوید پتریوس همزمان با آغاز کار رسمی در سمت قوماندانی حدود ۱۵۰ هزار نیروی بین المللی در افغانستان، گفته است: جنگ در افغانستان به مرحله سرنوشت سازی رسیده است. پتریوس روز یکشنبه حین تغیر قوماندانی نیروهای بین المللی و عهده دار شدن این سمت در افغانستان، گفت: ما در یک جنگ سخت قرار داریم و پس از سالها جنگ، به یک لحظه سرنوشت ساز رسیده‌ایم.

قوماندان جدید نیروهاي امریکایي که به جاي جنرال مک کریستال در این سمت قرار گرفته، تصریح کرد: ما باید به مردم افغانستان و جهان نشان بدهیم که القاعده و گروه‌هاي وابسته به این گروه افراطي دیگر اجازه ندارند پناه‌گاه‌هاي امني را در افغانستان براي خود ایجاد کنند. پترائوس خاطرنشان کرد: ما در افغانستان هستیم تا در این جنگ پیروز شویم و پیشرفت‌های حاصل شده در افغانستان انعکاس دهنده دیدگاه، انرژی و رهبری استنلی مک کریستال بوده است.

وي خاطرنشان کرد، تغییر در قوماندانی نیروهای بین المللی، به معنی تغیر در استراتژی جنرال استنلی مک کریستال در مورد حفاظت از مردم افغانستان نیست. وی گفت: باید تحت استراتژی جنرال استنلی مک کریستال از شمار تلفات غیرنظامیان در افغانستان بکاهیم و تعداد این تلفات را به حداقل ممکن برسانیم.

پیام تبریکی دفتر ولایتی تخار حزب اسلامی افغانستان

دفتر ولایتی تخار حزب اسلامی افغانستان به نماینده گی از مجاهدین مؤمن، مخلص و متعهد حزب اسلامی افغانستان در ولایت تخار اعم از قوماندانان معظم جهادی، مجاهدین حماسه آفرین و کفر شکن، استادان پوهنتون تخار، معلمین، محصلین، جوانان و همه مردمان مجاهد پرور و متعهد به حزب اسلامی افغانستان انتخاب مجدد برادر مجاهد ارغندیوال صاحب را از طرف شورای رهبری حزب بحیث رئیس حزب اسلامی افغانستان با درنظرداشت اوضاع و احوال سیاسی کشور یک گام مهم سیاسی مدبرانه و خردمندانه دانسته و این انتخاب میمون و سنجیده شده را به همه مجاهدین مخلص و مؤمن حزب اسلامی در همه شهرها، دره ها و کوه پایه های مرد خیز کشور که وجب، وجب خاک آن بخون پاک شهدای عزیز ما رنگین است تبریک و تهنیت عرض نموده، موفقیت و کامیابی هر چه بیشتر جناب شانرا در امر برآورده شدن آرمانها و اهداف شهدای نامدار نهضت اسلامی و انقلاب اسلامی افغانستان تقویت و بسیج صفوف مجاهدین حزب، انسجام جوانان، تحقق اهداف اسلامی و مرامی، مشارکت در نظام و فراهم آوری زمینه های رشد کادرهای علمی و مسلکی حزب وغیره مقاصد نیک که اسباب صلح و ثبات دائمی، ترقی و تعالی کشور را میسر می سازد از بارگاه خداوند متعال آرزومندیم. بااحترام

سید نظام الدین زیارمل مسؤول دفتر ولایتی تخار

افغانستان د نړیوالو ورځپاڼو په هنداره کې

د افغانستان په اړه په څو بریتانوي او امریکایي ورځپاڼو کې تبصرې خپرې شوي، څو موږ د ګارډین او واشنګټن پوسټ ددې لیکنې غوره کړې چې یوې په افغانستان کې په رشوت د یوه بریتانوي د برات او بلې افغانستان ته د امریکایي سناتور جان مککین پرسفر رڼا اچولې ده، عصمت څاروان په لاندینۍ مطلب کې را چاڼ کړی.

ګارډین:

په لندن کې خپرېدونکې ګارډین ورځپاڼې لیکلي سره له دې چې ویلیم شا په کابل کې د رشوت له توره سپین شوی خو لا یې هم له زندانه د وتلو لارنه ده موندلې.

ورځپاڼه زیاتوي سره له دې چې د کابل یوې محکمې د بریتانیا د پوځ صاحب منصب ویلیم شا تربیه کړی، خولا هم نه دی خوشی شوی او باید د قانوني مراحلو بشپړېدو ته انتظار وباسي، تردې مخکې یوې بلې محکمې نوموړي په دوه کاله بند محکوم کړی وو.

د بریتانیا د پوځ دا پخوانی صاحب منصب د جي ۴ ایس شخصي امنیتي کمپنی مشروو چې په کابل کې یې د بریتانیا د سفارت امنیت برابراوه.

ویلیم شا د محکمې د پرېکړې له اعلانه وروسته وویل، چې ډېره خوشالي احساسوي ځکه چې پلچرخي د ده لپاره سم دم دوزخ وو.

واشنګټن پوسټ:

په واشنګټن پوسټ کې لولو، چې جان مکین د افغانستان د جګړې په باب په کانګریس کې د جمهوریت غوښتونکي ګوند د مشر مایکل ستیل څرګندونې غیردقیقې وبللې.

ښاغلي ستیل ویلي وو، چې د افغانستان جګړه د امریکا جنګ نه دی بلکې د اوباما جنګ دی.

د واشنګټن پوسټ په نظر ستیل له څرګندونو وروسته څرګنده نه ده چې نوموړي به د جمهوري غوښتونکي ګوند د ملي کمېټې مشر پاتې شي او کنه؟

مکین په خپله د جمهوري غوښتونکي ګوند ترټولو مخکښ مشر دی، خینو کسانو د ستیل د برطرفه کېدو غوښتنه کړې ده ګڼو نورو لوېدیځو ورځپاڼو په افغانستان کې د نړېوالو ځواکونو د نوي قومندان جنرال ډیوېډ پیترایوس څرګندونې خپرې کړي چې د قوماندې له ترلاسه کولو وروسته یې وکړې.

ورځپاڼه لیکي د هغه فرانسوي جنرال دوسیه د فرانسې دفاع وزیر ته استول شوې چې په افغانستان کې یې د امریکا پر ماموریت انتقاد کړی او ویلي یې دي چې امریکا په افغانستان کې د متحدینو له جنرالانو سره مشوره نه کوي او هر څه په خپل سر او په خپله خوښه پر مخ بیایي.

جنرال کریستوف پرازوک چې د فرانسې لوی درستیز دی له دغه منتقد فرانسوي جنرال وینسنت دسپورت سره یې لیدنه کړې او هغه ته یې ویلي چې دی باید د خپلو دغو بیاناتو په باب د فرانسې دفاع وزیر ته سپیناوی وکړي.

لوی درستیز ویلي چې دفاع وزیر اروه مورن به د دغه جنرال په باب انظباتي پرېکړه کوي چې ښایې له پوځ څخه د هغه په شړلو هم خطمه شي.

جنرال وینستدسپورت د فرانسې له لوموند ورځپاڼې سره په مرکه کې په افغانستان کې د امریکا ستراتیژي ناکاره بللې او د افغانستان روان ماموریت یې نا سم بللی دی.

دغه جنرال په جون میاشت کې د سل تنو بهرنیو سرتیرو وژنې ته په اشاره سره ویلي ول چې د سرتیرو مړینه دا ښيي چې جګړه څومره نا سمه پلان شوي او د افغانستان حالت اوس د بل هر وخت په پرتله ډېر پیچلی او خطرناک دی.

د بینوا ویب پاڼې درنو لوستونکو دغه جنرال یو مهال په افغانستان کې د فرانسوي هغو سرتیرو قومانده هم کوله چې په کاپیسا ولایت کې ځای پر ځای دي.

نوموړي جنرال ورځپاڼې ته د امریکا د ولسمشر په هغه پلان هم انتقاد وکړ چې وایې افغانستان ته دیرش زره تازه دمې سرتیري استوي.

نوموړي وویل: ((که د افغانستان جنګ جنګ وي نو دیرش زره سرتیري ورته کفایت نه کوي او که چیرته دغه جنګ سم نه وي نو باید د سرتیرو شمیره صفر ته را ټیټه کړای شي.))

د فرانسې لوی درستیز د دغه جنرال خبري د هغه شخصي او له اسنادو پرته څرګندونې په ګوتو کړي دي.

دمګړی د فرانسې ۳۷۵۰ سرتیري په افغانستان کې د ناټو تر قوماندې لاندې ماموریت پر مخ بیایي.

افغان مشران دې په لویه ...

مخه ونیسي او خپل پولیس او اردو وروزي.

جو بایډن د امریکا د خپلواکۍ د ورځې په مناسبت له عراق څخه د لیدنې په مهال له افغان مشرانو وغوښتل، چې دده په وینا په لویه کې داخل شي.

ده وویل، چې موږ د تل لپاره په افغانستان کې نه پاتې کېږو او داسې نه شي کېدای چې موږ افغان مشرانو به نسبت د دوی د هېواد امنیت ته ډېرلیواله اوسو.

د امریکا د ولسمشر مرستیال جوبایډن دغه څرګندونې د ام، اس، ان بي، سي تلویزیوني شبکې ته یوه ورځ وروسته له دې وکړې چې جنرال ډیوېډ پیتریوس په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو قوماندانی رسما په غاړه واخیسته.

په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو پخوانی قوماندان جنرال مک کریسټال وروسته له دې له دندې لېرې کړای شو چې له یوې امریکایي مجلې سره یې په مرکه کې د امریکا ملکي مشرانو پسې سپکې سپورې ویلي وې.

د جنرال مک کریسټال دغو خبرو داسې یوه اشتباه رامنځ ته کړه، چې ګویا امریکایي ملکي او پوځي مشران د افغانستان د جګړې په اړه سره اختلافات لري.

خو د امریکا د ولسمشر مرستیال پرون ټینګار وکړ، چې ولسمشر اوباما او د ده جنرال سره متحد دي.

ده وویل، چې د ولسمشر ستراتیژي د جنرال پیتریوس ستراتیژي ده او دا د دفاع وزارت ستراتیژي او یوه متحده ستراتیژي ده.

بل خوا مخکښ جمهور پلوي سناتور جان مککین د یکشنبې په ورځ په کابل کې ای، بي، سي تلویزیوني شبکې سره په مرکه کې انتقاد وکړ چې ولسمشر اوباما ولې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو نېټه ټاکلې ده.

جان مککین چې د ویتنام په جنګ کې یې هم برخه اخیستې وویل، چې زه په جنګ ښه پوهېږم که چېرې ته دښمن ته د خپلو وتلو نېټه وټاکې نو بې له شکه چې هغه ستا تر وتلوانتظار باسي.

حامد کرزی تلاش دارد تا ...

از ولایت کندهار به آژانس اسوشتیت پرس گفته است، حامد کرزی می خواهد با استفاده از دوستی گذشته ایکه با جلال الدین حقانی و پسرش سراج الدین حقانی دارد، آنها را تشویق کند در روند صلح شرکت نمایند.

پاکستان هم حکومت افغانستان را تحت فشار قرار داده تا حقانی را در حکومت شامل بسازد.

از زمانیکه بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا اعلان کرد که خروج نیروهای آن کشور در جولای سال ۲۰۱۱ آغاز می شود، کرزی در تلاش است تا روابط خود را با پاکستان بهتر بسازد و با شورشیان افغان نزدیک شود.

کرزی منحیث علامت حسن نیت، تعهد کرد زندانیان طالب را از زندان آزاد کند و نیز از شورای امنیت ملل متحد بخواهد تا نام های بعضی از رهبران طالب را از لست سیاه خارج بسازد.

اعلان آغاز خروج نیروهای امریکایی در جولای سال آینده که بارک اوباما آن را اعلان کرد، پاکستان را بر انگیخته تا استراتیژی خود را در افغانستان ارزیابی کند.

اردو و اداره استخبارات پاکستان «ISI» به این باورند که گروپ حقانی برای حمایت از منافع پاکستان در افغانستان یک نیروی مهم است. چنانچه طلعت مسعود یک جنرال متقاعد پاکستانی می گوید، اردوی پاکستان به این نظر است که شامل ساختن شورشیان به شمول گروپ حقانی در حکومت افغانستان، یگانه راه ثبات افغانستان بعد از خروج نیروهای امریکایی دراین کشور میاشد.

اما یک موسسه تحقیقاتی « مطالعات امور جنگ» مستقر در واشنگتن می گوید، حقانی آشتی ناپذیر است، بناء مذاکره با این شبکه، القاعده را تقویت می بخشد، ثبات منطقوی را تضعیف می کند و امنیت ایالات متحده امریکا را به خطر مواجه می سازد.

در یک راپوریکه از طرف همین موسسه تحقیقاتی به نشر رسیده، آمده است که مذاکره با حقانی ماموریت ایالات متحده امریکا در افغانستان را به خطر مواجه می سازد.

در راپور هم چنان گفته شده، گروپ حقانی یک تعداد تروریست های بین المللی به شمول لشکر طیبه از پاکستان و سایر جهادیست های اسلامی ازبک، کرد، آزربایجانی، ترک و سایر جا ها را تربیه می کند.

گفته می شود، مرکز شبکه حقانی در مناطق کوهستانی قبایل وزیرستان شمالی قرار دارد. ایالات متحده امریکا بارها از پاکستان خواسته است علیه این گروپ عملیات زمینی را آغاز کند، اما پاکستان به بهانه نه داشتن نیروهای کافی این تقاضا را تا اکنون رد کرد است.

هشدار وزیر دفاع آلمان ...

افزود، افغانستان "هرگز بر اساس معیارهاي ما مطلقا با ثبات نمي گردد ".

به گفته گوتنبرگ، این که افغانستان در آینده آشکارا بار دیگر به عنوان منطقه عقب نشیني هسته هاي تروریسم مبدل شود که تروریستان از آن جا فعالیت هاي خود را در سطح بین‌المللي سازمان دهي کنند، از دید بین المللي بسیار مهم است تا با عناصر تروریسم مبارزه شود. وزیر دفاع آلمان تاکید مي کند که جامعه جهاني از همین حالا باید در قسمت اتخاذ تدابیر بعدي فکر کند، هماهنگ سازي بین‌المللي در اطلاع رساني عملیاتي و نیرو هاي خاص بخشي از آن شمرده مي‌شود.

نظر به ارزیابي وزیر دفاع آلمان، یک چنین شیوه عملي، به شیوه عمل ایالات متحده امریکا در پاکستان، کشور همسایه افغانستان شباهت دارد، جایي که قبل از همه، حملات هدفمندانه هوايي توسط طیارات جنگي بدون سرنشین (درونین) صورت مي گیرد.

گوتنبرگ افزود، شیوه عمل شاید مشابه با شیوه عمل در پاکستان، اما مطابق با خصوصیات و اساسات منطقه طرح ریزي خواهد شد.

گوتنبرگ دیگر اعضاي ایتلاف مبارزه با تروریزم مانند بریتانیا، پولند، فرانسه و ایالات متحده امریکا را به صورت غیرمستقیم در رابطه با برنامه‌هاي خروج یک جانبه (بدون هماهنگي و بدون در نظر گیري شرایط افغانستان) هشدار داد. وزیر دفاع آلمان گفت: "در صورتي که واقعا وضعیتي پیش آید که مثلا یکي از شرکاي بزرگ تر یا بزرگ ترین، به هر دلیلي که باشد، به سرعت افغانستان را ترک بگوید، در این قسمت در هر حال به هماهنگي نیاز است ".

وزیر دفاع آلمان تاکید کرد که از اتخاذ شیوه هاي تکروانه باید پرهیز کرد. ایالات متحده امریکا در نظر دارد که اواسط سال ۲۰۱۱ به بیرون کردن سربازان‌اش از افغانستان آغاز کند. پولند اعلام کرده است که تا یک سال دیگر، به بیرون کشیدن کامل سربازان‌اش از افغانستان اقدام مي کند.

په ننګرهار کې د هندوانو ...

زیاتوي: (زما په نظر تر کوکنارو هم د هندوانو ګټه ښه ده ځکه له هغې زیاته اوحلاله ده.)

دننګرهار دمومندرې ولسوالی دباسول د سیمي اوسیدونکی رضوان هم وایي چې سږکال نږدی په ګڼو ولسوالیو کې دهندوانو فصلونه ډېره ښه اود حاصل اندازه او ګټه یې هم ډېره وه. هغه زیاته کړه که څه هم سږکال دهندوانو بیه ټیټه خوحاصل یې ښه دی اوکروندګر ورڅخه ډېرخوښ دي. خو سوداګر بیا وایي چې سږکال په ننګرهار کې هندوانې په ښه بیه پلورل کیږي. ددوی په وینا یومن هندوانې په ننګرهار کې سوداګر له دیرشو ترڅلويښتو افغانیو اخلي او له دې ځای څخه کابل او نورو ولایتونو ته لیږدوي.

یو تن سوداګر نور محمد چې له ننګرهار څخه کابل ته هندوانې سوداګري کوي وایي چې که څه هم سږکال هندوانې ډېرې زیاتې دي خوسره له دې هم ډېرې ښه پلورل کیږي. نوموړی وایي چې هندوانې په ننګرهار کې اخلي او له هغې ځای یې کابل او نورو ولایتونو ته لیږدوي چې په وینا یې ښه ګټه ترې ترلاسه کوي. که څه هم په ننګرهار کې د هندوانواو خټکیو د پیر او پلوربازار خورا ګرم دی خو یو شمیر کروندګر وایي چې دولتي اداروا و مرستندویه ټولنو ورسره هیڅ ډول مرسته نه ده کړې.

ددوی په وینا که دولتي اداري او مرستندویه ټولنې ورسره مرسته وکړي نو ګڼ شمېر نور کروندګر به له کوکنارو لاس په سر اوهندوانې به وکولای شي چې دکوکنارو ځای ونیسي. خود ننګرهارد کرنې اومالداری رییس محمد حسین صافی روزخبري آژانس ته وویل چې د دې ولایت کرنې د اداري له بزګرانوسره د نورو اصلاح شویو تخمونوسربیره د هندوانواوخټکیو په تخمونو کې مرسته کړې اوهڅه کوي چې له دې لارې دننګرهار دبزګرانوعایدات زیات شي. نوموړی وایي: (موږ به راتلونکي کې د مرستندویه ټولنو په مرستو نوره هڅه هم وکړو چې کرونده ګرو ته اصلاح شوي تخمونه ورکړو او دهندوانو حاصلاتو ته خانګړې پاملرنه وکړو.)

دویلو ده چې دهیواد نږدې په هرولایت کې کروندګر دنور ستونزو ترڅنګ دحاصلاتو پرمهال دمارکیټ له نشتوالي سره مخ وي. دوی وایي چې که دولت په دې برخه کې جدي پاملرنه او دحاصلاتو پر مهال په مارکیټ موندنه کې له کرونده ګرو سره مرسته وکړي نو دهیواد په عوایدو کې به ډېر زیاتوالی راشي.

ننګرهار د ناامنۍ پر ...

چارواکیو کباب پرې ایښی وي او سیخ سیزلی.

دریمه ستونزه په ننګرهار کې د اداري فساد ده چې خپل اوج ته رسېدلی او ورځ تربلې دا لړۍ نوره هم پراخېږي، فساد په هره دولتي اداره کې خپلې ریښې دومره زغلولي چې اوس یې د مهار کولو چل چاته نه ورځي. بډې او رشوت دومره دود شوی، چې په بې پیسو او ټېټو ادارو کې مامورین له خپلو مراجعینو نه د یوه ډېو او لس روپۍ وال جوس غوښتنه کوي. لوړو دولتي عایداتي ادارو ته بیا چارواکیو مهالوېش جوړ کړی، چې د باور لپاره یو څه پیسې دولتي زېرمې ته و استوي او پاتې په خپل اکاونټ کې جمع کړي. په دې تېرو درې څلور کالو کې د بې کفایتۍ او بډې اخیستنې له امله هیڅ کوم چارواکی نه چا له خپلې دندې ګوښه کړ او نه یې د قانون منګولو ته وسپاره. ولسوالان او رییسان بدلېږي رابدلېږي، خو په کور نه کېښول کېږي.

دلته ولس ته دا پوښتنه پیدا کېږي، چې دولت همدې څو تنو ته څوکۍ په اجاره ورکړي. له دې کاره معلومېږي چې ټول چارواکي په دې ټولو ناوړه چارو کې سره یوه خوله دي او چل یې ولس ته جوړ کړی. که په ننګرهار کې دا حالت همداسې دوام وکړي او مرکزي دولت هم چپه خوله پاتې شي، نو بهرنیان، دولت او ملت به په هلمند او کندهار شکر وباسي.